# د حضرت سيد ميرانورشاه د ژوند اوکلام مختصره جائزه

# A short review of the life and poetry of Hazrat syed Mir Anwar Shah

**Dr - Nasrullah Majnoon***

**Abstract**:

The Pashto literature is the mirror of Sufism and humanity - Mostly the poets here are the lover of human and humanity - The ray of the content of Sufism and humanism had been started from the very beginning of Pashto literature specially poetry - The Rokhanies and after them Darwezies were the pioneer of Sufism - Rahman baba is the most popular poet in the subjected topic, Sufism - After him most of the poets followed him - One of those Sufis is Hazrat Syed Mir Anwar Shah, whose poetry is also the reflection of the Sufi thoughts - In this paper we are going to introduce him and shortly discuss the main theme of his poetry and show that his poetry is reflection of humanity and Sufism - After that we are going to show the ray of the thoughts of Rahman Baba on his poetry -

**Keywords**: Pashto literature, Sufism, Pashtun Sufism, Human, Humanity, Reflection of thoughts and ray of thoughts -

د دنيا په مخ لوے لوے فلسفيان، حکيمان، اديبان، نقادان، صوفيان، اولياء او شاعران تېر شوي دي او لا دغه نۀ ختمېدونکې سلسله مخ په وړاندې روانه ده، چې د خپل خپل اولس فکري او اخلاقي روزنه ئې هم کړې ده او د قوم د ازادۍ، ابادۍ او ودانۍ په نهضتونو کښې ئې هم خپله برخه اچولې ده ـ لوي انسان او فنکار هغه وي کوم چې د خپل قوم فکري روزنه وکړي ـ د خپل قوم اودۀ جذبات او احساسات د ټولنې د پرمختګ د پاره راوپاروي او دوخت او زمانې په تيارو کښې خپله برخه مشال کړي ـ پښتنې خاورې هم د تاريخ په هر پړاو داسې مثالي هستۍ زېږولې دي چې په ګړده نړۍ کښې ئې ثاني نشته ـ د پير روښان نه واخله تر خوشحال خان بابا او خوشحال خان نه تر دې دمه دا سلسله لا روانه ده هم په دغه تسلسل کښې د قدرتيحُسن نه مالا مال سيمې اورکزۍ ايجنسۍ هم د خپلې

* Assistant Professor Department of Pashto ICU Peshawar

پاکې، معطره فضاګانو او غېرتي ماحول په غېږه کښې پښتو شعروادب ته قنبر علي خان، قلندر افريدي او سيد مير انورشاه غوندې سپېڅلي کردارونه وربخښلي دي ـ په دې مقاله کښې به د دغه سپېڅلو هستيانو نه د يوې روحاني او تخليقي هستۍ په ژوند، فن اوفکر خبره کولے شي، چې دغه روحاني هستي د عارف کامل حضرت سيد مير انور شاه په نامه شهرت لري۔

## د ميرانورشاه زمانه اوخانداني پس منظر:-

سيد مير انور شاه د پښتو ژبې او ادب د درېيم دور سره تعلق لري، کوم چې د ۱۱۰۰هنه تر ۱۳۰۰ھ پورې دوام لري۔ دغه صوفي بزرګ او عارفِ کامل شاعر د رحمان بابا، حميد بابا اوعلي خان همعصروو، چې پښتو ادب ته ئې د "صحيفه انوري" په رنګ کښې خپل کلام ډالۍ کړے دے۔

ميرانورشاه د وادي تيراه اورکزۍ ضلع په کلي کلايه کښې د ۱۲۰۰ هجرۍ په دوېمه عشره کښې د مياں داد شاه په کور کښې پېدا شوے وو ـ د زېږېدنې نېټه ئې نۀ ده معلومه البته د وفات نېټه ئې معلومه ده، چې په ۱۲۱۴هجرۍ بمطابق ۱۷۹۹ءکښې وفات شوے وو ـ وئيلے شي چې انورشاه سل کاله ژوند کړے ووپه دې حساب ئې د زېږېدنې نېټه ۱۱۱۳-۱۴هجري جوړېږي چې رحمان بابا، حميد بابا، علي خان بابا او داسې نور کلاسکي شاعران له ژوندي وو ـ

انور شاه په خپله زمانه کښې په جدا جدا نامو شهرت لرلو لکه انور شاه، شاه انور، مياں او مير انور شاه ولې سيد ئې د صفاتو او کمالاتو سره تعلق لري ـ د انور شاه شجرۀ نسب د حضرت حسېن الاصغر ابن حضرت امام زېن العابدين په ذريعه حضرت امام حسېن ابن حضرت علي ته رسي ـ د انور شاه مزار د تيراه اورکزۍ ايجنسۍ د مستوري نهر نه پورې غاړه د لبړي په مقامد ورايه په نظر راځي۔

د انور شاه اولاد

د مير انور شاه ايکي يو زوے وو چې مدد شاه نامه ئې وهاو تر ډېره وخته د اولاد د نعمت نه محرومه وو ـ بيا ورله الله پاک شپږ زامن ورکړو چې د خپل پلار په رنګ د اعلٰي کمالاتو او معجزاتو خاوندان وو چې نامې ئې دا دي۔

۱ ـ سيد احمد شاه لقب امانت الٰهي

۲۔ سید علي شاه لقب رجع الغائب

۳۔ سید محمود شاه لقب سیاح الغائب

۴۔ سید حسین شاه لقب ملنګ زنجیر پا

۵۔ سید حسَن شاه لقب قطب الغائب

۶۔ سید محمد حسن شاه چې لقب ئې داود دیوان و۔

د انورشاه د کلام ادبي، فکري اوفني اهمیت

د انور شاه صحیفه انوري یقیناً چې په پښتو شعروادب کښې یوه اهمه اضافه ده۔ دا کتاب په تاریخي حواله هم د اهمیت وړ دے ځکه چې انور شاه په خپل کلام کښې د ډېرو معلومو او نامعلومو شاعرانو او د خپلې سیمې د مشهورو واقعاتو ذکر کړے دے۔ د بعضو شاعرانو او د سیمې د مشهورو واقعاتو تاریخونه ئې هم لیکلي دي۔ په دغه یاد شویو شاعرانو کښې دولت لوانړے، عبدالحمید بابا، میر حسن زی، صدر خان او قنبر علي خان کوم چې د انور شاه مرید هم دے او د دیوان څښتن هم دے ذکر کړے دے۔

د قنبر علي خان دیوان د پښتو ژبې او ادب نوموړي څېړنکار همېش خلیل مرتب کړے دے ۔ دغه دیوان په کال ۱۹۲۰ءکښېچاپشوےدےچېهمېش خلیل پرې یوه وړه شان مقدمه هم لیکلې ده۔ دغه مقدمه که وړه ده ولې د غور لائق ده۔ همېش خلیل د قنبر علي د دغه دیوان په مخ "ص" د نورو ګمنامو شاعرانو نومونه هم ورکړي دي چې په کښې عثمان، سید علي شاه اولیاء، سید احمد شاه، نور علي، نورالله او سید انور شاه شامل دي۔ همېش خلیل هم د دغه دیوان په مقدمه کښې د قنبر علي خان د وفات نېټه (چې ۱۲۰۷ده) د انورشاهد مرثیې نه راخستې ده کومه چې هغهٔ ته په کوهاټ کښې د میر فضل حسن د شېرکوټ نه ترلاسه شوې وه۔ هم د دغه دیوان په مخ "ک" کښې د یوې بلې اهمې واقعې ذکر شوے دے همېش خلیل لیکي

" چې قنبر علي خان د خپل وخت د یو خان ظفر خان په مرګ یو مرثیه وئیلې ده، ولې د بده مرغه د مرحوم پحقله هیڅ معلومات په لاس را نهٔ غلو"[1]

د دغه دیوان په اووه دېرشم(۳۷) مخ باندې دغه مرثیه داسې ده۔

که په خوي په بوي وه ښهٔ د ګل په څېر وائم خان د ظفر خان دور شه تېر

څو ژوندون وي د دوستانو په دُنیا وائم خان د ظفر غم به نهٔ شي هېر[2]

د همېش خليل زيار د داد لائق دے چې د قنبر علي خان په ديوان کښې ئې د پښتو نور شاعران هم معرفي کړي دي۔ کومې واقعې ته چې همېش خليل اشاره کړې ده هم په دغه واقعه انور شاه هم د پنځه ځلوېښت (۴۵) شعرونو مرثيه ليکلې ده۔ همېش خليل د دائم خان نوم وائم خان ليکلے دے۔ پکار ده چې د قنبرعلي خان د ديوان پهدوبارهچاپ کښې دغه د نامې غلطي لرې کړے شي۔

دايم خان او ظفر خان دواړه وروڼه وو چې د پيواړ کُرم ايجنسي پاړه چينار اوسېدونکي وو او د انور شاه نزدےدوستان وو ۔ په کال۱۱۹۷هکښې دائم خان قتل کړے شوےوو ۔ قنبر علي خان چې کومه مرثيه ليکلې وه دغه ئې هم د خپل پير انور شاه په وېنا ليکلې وه۔لکه چې قنبر علي خان وائي

انور شاه صاحب په حکم قنبر اووې

خفه ناست دے د غمونو په گُل هېر[3]

په فکري حواله په دې کتاب کښې د ژوند سره اړه لرونکي هرې موضوع باندې په زړهٔ پورې شعرونه موجود دي۔ دلته د تصوف دقيقې مسلې هم شته، د طريقت، شريعت، سلوک و معرفت ننداري هم د دې کتاب خوبيانې دي۔د انور شاه شاعري د عشق او جذب په مئيو لامبېدلې شاعري ده۔ د عشقِ حقيقي، حبِّ رسول، حبِّ آل رسول نه تر مرشد او امام پورې دغه روحاني سفر د انور شاه بابا د شاعرۍ توان هم دے، شناخت هم او امتياز هم۔

د شُهدائےکربلا په حواله زړهٔ سواندې مرثيې هم د دې صحيفه انوري اهم فکري موضوعات دي۔ د دې نه علاوه د اسلام احکام او په زړهٔ پورې نصيحتونه، د حسدو کينې، بغض او رياکارۍ غندنه، د فقرو قناعت، سخاوت، صبر،ننگ، غېرت او ذکرو اذکار ستائينه هم د دې کتاب اهميت په ډاگه کوي۔

د فن له رويه د دې کتابپه ژبه او اسلوب د رحمان بابا رنگ غالب دے۔ په دې کښې د کلاسکي روايت په رنگ مثلث، مربع او مخمس هم شته۔ په نورو شاعرانو د تعلي ټکونه هم شته لکه چې په خپل مريد قنبر علي اوحميد باباپه خپل يو مخمس کښې چې د حميد بابا په زمکه ئې ليکلے دے ټکونه کوي۔ حميد بابا ليکي چې:

د هجران له لاسه ناست يم وير ژړلے

لکه بُت په غټو سترگو دم ختلے

بېهوده په صورت روغ په زړۀ نتلے
بېلتانۀ په مرګ حال يم رسولے
ربه راولې اشنا په سفر تلے[4]

هم په دغه زمکه د انورشاه مريد قنبر علي خان وائي چې:

چې د ښکلو په غمزو سره شهيد دے
دهغودلےعاشوراواورےعيددے
دا جواب چې د مومندعبدالحميددے
دخوبانودغوږونومرواريددے
چې به غوږ ئې وي د عقل زنګولے[5]

انورشاه د دغه دواړو په جواب کښې داسې وائي:

د قنبر عبدالحميد ځواب به څو کړې
د دانش عقل فرس به تګ و پو کړې
د رموز خبرې واړه په پښتو کړې
مير انوره دا بهتر که خوي د ښو کړې
خوي خصلت د ښو هر چا دے پسندلے[6]

دغه رنګ د عبدالقادر خان خټک چې د رحمان بابا همځولے او د خوشحال بابا زوے دے په غزل صدرخان خټک هم د هغۀ په موضوع، رديف او قافيې يوغزلليکلے دے۔عبدالقادر خان خټک وائي:

لکه زۀ پسې مفتون يم بل به نۀ وي مفتون هسې
لکه زۀ پسې مجنون يم بل به نۀ وي مجنون هسې
دا غزل چې په پښتو ژبه بيان عبدالقادر کړه
دروغژن يم که بې خان ووائي بل يو پښتون هسې[7]

هم په دغه زمکه د عبدالقادر خان خټک ورورد صدرخان خټک غزل دے چې:

لکه زړۀ چې زما وسه ستا په غم کښې بېلتون هسې
مه وی وريت د جدايۍ په اور کښې بل يولړمون هسې
ستا جواب عبدالقادر په دا رنګ "صدرخوشحال" کړ
څو بې خانه زۀ وئيل کړم بل به نۀ کا پښتون هسې[8]

د صدرخان په جواب کښې انورشاه هم په دغه زمکه داسې وائي:

زۀ شېدا فدا يم، د جانان په جنون هسې
بل يو هسې نشته، په دا دور مجنون هسې
څۀ د هر شاعر غزل ځواب کړې مير انوره
بس د صدر خان دے دا ځواب په مضمون هسې[9]

د دې نه علاوه په کښې د نورو شاعرانو ذکر هم شته، چې انور شاه ئې جواب کړے دے۔

د انور شاه د کلام موضوعات او تعليمات د انور شاه کلام د شروع نه واخله تر اخيره پورې د يو ولي، پيرِ کامل او صوفي مقام په ګوته کوي۔ د الله پاک د وحدانيت پرچار، د حضرت محمدصلي الله عليه وسلم د نبوت، پېغمبرۍ او سنت پيروي اومتابعت، داهلِ بېتو سره مينه او عقيدت ئې د کلام خاصه ده۔ د نفس، حرص، لالچ، بغض، حسد، د دنيا د فاني ژوند او مال دولت غندنه ئې هم کړې ده او د نېک عمل،فقروقناعت، استغنا، خود دارۍ، عاجزۍ، فقيرۍ، ملنګۍ او درويشۍ په حقله ئې هم خپل سپېڅلي خيالات اولس ته د اولس په ژبه بيان کړي دي۔

د انور شاه په کلام کښې مجازي اړخ په نشت برابر دے او شائد وجه ئې دا ده چې هغۀ وړومبے صوفي دے او بيا شاعر دے يعنې د خپلو تعليماتو او طريقت د پاره ئې د شعر مورنۍ ژبه پکار کړې ده۔

لکه څنګه چې د مشرقي ژبو اکثرو شاعرانو د خپل کلام ابتدا د الله پاک د پاکې نامې نه کړې ده دغه رنګ انور شاه هم د خپل کلام شروع د الله تعالي د صفاتو نه کوي۔د الله په وحدانيت مکمله عقيده لري او په رنګ رنګ طريقو د وحدانيت مدارج بيانوي لکه چې وائي۔

الله ربه بې همتا له قديمه يې تنها
لَم يلِد وَ لَم يلَد يې خپل ذات نه ئې پېدا
بې شريکه تۀ واحد يې مدد نۀ غواړې له چا[10]

الله تعالي د ټول جهان مالک، خالق او رازق دے۔ دا ټول کائنات د هغۀ په حکم چلېږي۔ د الله شريک نشته او که چرې وے نو د کائنات نظام به درهم برهم شوے وے۔ الله د ټول جهان روزي رسان دے لکه چې انور شاه وائي:

خدا ے کریم رحیم بادشاه د ے
د ے خالق د کُل اشیاء د ے
هم رازق د ے وَ هر چا ته
حئ قیوم وَ توانا د ے
له هیچا ئې پروا نۀ شي
د ے غني وَ مستغنٰي د ے[11]

بل ځائې کښې داسې وائي:

ا ے د شاه د ګدا یاره خاصو عامو خریداره
ستا ثنا صفت بې شماره په ما حق د ے کردګاره
تۀ هُوَاللّٰهُ احد یې لَم یلِد و لم یلَد یې[12]

انور شاه چې څومره مینه او عقیدت د الله تعالٰي سره لري دومره د خوږ نبي آخیر زمان حضرت محمدصلي الله علیه وسلم سره هم لري ـ که یو پلو په عقیدۀ توحید باندې پخه عقیده لري نو بل اړخ ته په ختمِ رسالت هم پوخ یقین لري او دا خبره په وثوق سره مني چې:

اولین وَ آخرین یې محمد تۀ خاتم المرسلین یې محمد
د معراج په شپه دې راز کړه چې سالک د واسلین یې محمد
کل جهان دا ستا له نُوره تۀ مالک سماء زمین یې محمد[13]

او بل ځائې داسې لیکي:

نُور ظهور اول اظهر یې آخر ختمِ پیغمبر یې
هر نبي د سر افسر یې تۀ حضرت رسول الله یې محمد
سر دفتر د مرسلین یې هم رهبر د اولین یې
مقتدا د آخرین یې تۀ حضرت رسول الله یې محمد[14] ۱۰۴

چې څوک د الله تعالٰي او د هغۀ د رسولانو سره مینه لري نو ارو مرو به د اهلِ بیت او صحابه کرام سره هم مینهلري ـ انورشاه هم د اهلِ بیت سره ډېره مینه لرله، بلکې د کلام د نیمې نه زیاته برخه ئې د اهلِ بیت په موضوع ښۀ سمبال ده لکه چې د اهلِ بیت سره خپله مینه ښکاره کوي:

زما فخر په نبي علي نسب ښهٔ
هم ئې اصل هم ئې نسل هم حسب ښهٔ
له اخلاصه که دوستي د اهلِ بېت کړې
په جنتو کښې به ناوزې په طَرب ښهٔ[15]

او بل ځائې کښې داسې وائي:

که په علم څهٔ خبر يې علامه صاحب هنر يې
په تقوي اراسته اوسه هم په دا سبب بهتر يې
پيروي د اهلِ بېت کړه لائق څښونے د کوثر يې
شفاعت به دې روزي شي اُمتي د پېغمبر يې[16]

په اسلامي واقعاتو کښې د کربلا واقعه د ټولو سانحو نه دردناکه واقعه ده چې هر انسان ئې دردولے او ژړولے دے۔ په دغه غملړې سانحې هر چا د خپلو خيالاتو اظهار کړے دے او لا دغه سلسله مخ په وړاندې روانه ده۔ نثر نګاران ئې په نثر کښې، شاعران ئې په شعر کښې، مُليان، عالمان، خطيباناو ناصحان ئې په جمعو، خطبو او محرابونو کښې په خپل مخصوص رنګ کښې اظهار کوي۔ غرض دا چې هر چا په خپل خپل رنګ د دغه مظلومانو سره مينه اوعقيدت ښکاره کړے دے۔ انورشاه په دغه سانحې ډېرې مرثيې ليکلې دي چې په لوستو يا اورېدو لوستونکي يا اورېدونکي هم د ځان سره ژړوي، د اورېدونکو او لوستونکو احساسات او جذبات راپاروي۔ که يو اړخ ته دغه د اسلامي رواياتو له ټولو نه لويه الميه وه، نو بل اړخ ته د انورشاه شجرهٔ نسب حضرت امام حسېن ابن حضرت علي ته رسي نو په دغه وجه ئې هغهٔ د هر چا نه زيات دردولے دے چې د برداشت کولو توان ئې نهٔ لري۔ انورشاه ليکي:

آه افسوس دے که حاضر خبر البشر وے
په امام حسېن چې پېښ د غم سفر وے
په اغوش کښې ئې نيولے لکه زړهٔ وے
په درون کښې ئې ساتلے خپل جيګر وے[17]

دغه رنګ په يوه بله مرثيه کښې خپل عقيدت ډېر په ښکلي انداز کښې بيانوي چې:

مصطفٰي په کربلا درېغه حضور وے
مرتضي و مجتبٰينُور اعلي نُور وے
مرسلانو به کومک کړے اکثر و
که خبره فاطمه د حضرت لُور وے
تسلي د اهلِ بيت به ئې کوله
که موسٰي کليم حاضر له کوهِ طُور وے
مير حمزه به په خدمت و راسېدلے
که خبر دے! د دې هسې شان فتُور وے
څۀ پروا به د حسېن وه له يزيده
جبرائيل که وَراغلے په عاشُور وے
سکينه به تنده کله تېرولے
که کوثر پياله شرابِ انطهُور وے
اسرافيل سرخروئي ولې حاصل نۀ کړه
حق و دۀ ته غږولے ئې که صُور وے۔[18]

د انورشاه په کلام کښې د تصوف باريکې مسلې او د حقيقي عشق نندارې له ورايه برېښي۔ د تصوف په جدا جدا وخت کښې جدا جدا تعريفونه شوي دي چې د ټولو نه په مجموعي ډول دا خلاصه راووځي، تصوف د نېک خوينوم دے۔ تصوف نۀ رسم دے اونۀ د علم نوم دے بلکې د دې نه مراد د اخلاقو تصحيح ده۔ که چرې رسم وے نو مجاهده ورله کافي وه او که علم وے نو د تعليم او زدکړې په ذريعه به حاصلېدے شوے۔ خو دا د اول نه واخله تر آخيره پورې سراسر اخلاق دي ځکه خو ځينې بزرګان وائي چې تصوف د ښو او سپېځلو اخلاقو نوم دے، چې د دې قسمه اخلاقو معامله په درې قسمه وي يعنې د الله سره، د مخلوق سره اود خپل ذات سره۔د اسلامي تصوف طريقت خپل انداز او خپل روايتونهلري۔ په مختلفو وختونو کښې د طريقت مختلفې سلسلې له مختلفو کاملانو څخه شروع شوي دي چې د اسلامي تعليماتو په خورونه کښې ئې اهم کردار لوبولے دے۔ دغه ټولې سلسلې يا طريقې په اصل کښې د اسلامي شريعت په راز د پوهېدلو او پوهولو مقاصد لري۔
په دغه تناظر کښې انورشاه هم يو کامل صوفي شاعر دے۔ د هغۀ په شعرونو کښې د

تصوف د فلسفې یا نظریې جدا جدا رنګونه تر سترګو کېږي. په دغه ټولو سلسلو کښې انورشاه د ناجیه سلسلې سره تړون لري لکه چې په مخمس کښې دغه اظهار کوي چې:

د دیښنو (دُشمن)له محبته اجتناب کړه
نهال زړهٔ کښې محبت د خاص احباب کړه
نظر فهم په آیاتو د کتاب کړه
ناجیه مذهب له واړو انتخاب کړه
د جحیم اور به شي مړ له دغه بردهٔ[19]

په بل مخمس "زېتون شجر ثمر" کښې هم داسې وائي:

د دُنیا خلق ټګان د خپل مطلب دي
پټ پنهان په زړهٔ بخیل شیرین په لب دي
هیڅ خلاف په دا وینا نشته اغلب دي
ګوښې ګوښې خوښ مائل په هر مذهب دي
پاک مذهب د ناجیه مې دے منلے[20]

ولې بل ځائې په منقبت کښې داسې هم وائي:

مرتضٰي چې ظهور وکړو دیارلسم وه د رجب
له علي تر مهدي پورې هر امام لري مذهب
په مذهب کښې جعفري یم سید اصل پاک نسب
له کامله تلقین واخله د سالک وکړه طلب[21]

د دې شعرونو نه دا خبره جوتېږي چې انورشاه د سلسله ناجیه (چې د امام جعفر مسلک و)سره تعلق لرلو. تصوف تزکیه نفس ته وئیلے کېږي او تزکیه نفس د اسلام نه بهر څیز نهٔ دے. په قرآن وسنت کښې د دې خبرې واضحه ثبوت موجود دے چې د ظاهري اعمالو سره د باطني پاکوالي او صفایۍ اهمیت هم د اسلام بنیادي ضرورت دے. د بدن پاکوالي سره د نفس او روح پاکوالے هم لازمي دے. د نفس پاکوالي نه مراد دا دے چې د غلطو سوچونو، فکرونو او غلطو نظریوجرړې د وېښه اوباسلے شي. د ناپوهۍ، عادتونو او غلطو اخلاقو نه چې کوم خویونه پېدا شوې وي د هغې اصلاح وشي. د غلطو رسمونو او دودونو نه ځان وساتلے شي او خپل فکر و عمل د الله اود الله د رسولرضا ته وسپارلے شي. تصوف د روحاني صفایۍ او

کامیابۍ یوه کوټلې ذریعه ده. د تصوف په ذریعه انسان د الله معرفت حاصل کړي. د الله په ذات او صفات پوهه شي. د هغه خوښې او ناخوښې وپېژني. د کائنات او په کائنات کښې موجود د مخلوقاتو رازونه ورته څرګند شي. غرض دا چې څوک د قرآن و سنت، صحابه کرام او اُمت د نېکانو اوعمل مطابق خپل ژوند کښې ظاهري او باطني صفاوالے او پاکوالے په داسې ډول تربیه کړي چې د هغې غایت د الله پاک واحد او لا شریک ذات او خوږ نبي سره بې کچه مینه وي، نو دغه تصوف دے. دانورشاه شمېره هم په منلے شوي صوفیانو کښې راځي د الله معرفت ورته عطا شوے و. دغه حالات داسې بیانوي:

عنایت فضل د ربّ ښۀ   نن په ما وشه عجب ښۀ
معرفت پیاله ئې راکړه   عشق راوښایه مکتب ښۀ
د قرآن ایت وګوره   خداے موجود نحنُ اقرب ښۀ[22]

تصوف د دُنیا په ټولو مذهبونو کښې موجود دے. هر مذهب او معاشرې په خپل خپل رنګ کښې پېش کړے دے او دنیا ته ئې معرفي کړے دے. هر صوفي د دغه شرف حاصلولو د پاره جدا جدا طریقې او لارې ټاکلې دي. د تصوف دوه نظریې یا فلسفې مشهورې دي چې یوې ته وحدت الوجود او بلې ته وحدت الشهود وئیلے کېږي. د وجودي نظریې منونکي وائي چې دا ټول کائنات او په دې کښې دا موجودات د الله یعنې حُسن مطلق د وجود حصې دي او شهودیان وائي چې دا کائنات او موجودات د الله د وجود سېورے یعنې ظل یا عکس دے.د دواړو مقصد یو دے خو د لفظونو فرق لري. انورشاه د دواړو نظریو منونکے او قبلوونکے دے ځکه چې په شاعر د خپل وجداني ادراک په وخت مختلف کېفیتونه راځي کله ورته وجود د وحدت ادراک کېږي او کله کله وجود د شهود ننداره کوي انورشاه هم کله وجودي شي او کله شهودي شي لکه چې وائي:

نوراني وه عجب مخ راته عیان شه
چې له نُوره ئې روشن زمکه آسمان شه
زندګي مې د ضمیر شوله حاصله
دا وجود زما وجود د خپل جانان شه
تاب د چا دے د لیدلو چې ئې ګوري
په دا باب شاهد مشهود تمام جهان شه

معرفت پیاله ئې راکړه چې دا نوش کړه
ځکه شُغل تلاوت مې د قرآن شه[23]

په معرفت کښې دا مقام د حېرت نه پس ترلاسه کېږي. د یو سالک په روحاني سفر کښې دا ډېر اهم او باریک پړاو وي، ځکه چې دلته دے د اعتباري جلوې سره مخ کېږي اودا داسې وي لکه چې ناڅاپه یو انسان ته په مادي وجود کښې یوه لویه روحاني چاودنه اوشي، چې سمبالول ئې ډېر ګران شي. انور شاه بابا د خپل اوږد روحاني سفر نه پس تر دغه پړاؤ رارسېدلے دے او د دغه نندارې سره د مخ کېدلو اظهارئې په کلام کښې ځاے په ځاے شوے دے لکه چې انورشاه وائي:

په عین الیقین چې ورشې وېره نشته
خوشحال ناست د جنتونو په سریر یم
شریعت و طریقت حقیقت حق دے
معرفت بوئې خوشبو شولم عبیر یم[24]

غرض دا چې انور شاه ته د حقیقي عشق معرفت حاصل شوے وو. انورشاه په مجازي نۀ بلکې د حقیقي عشق په مئیو مست وو. د عشق په لاره کښې چې کوم خنډونه، سختې کړاوونه، ولړې تندې، هجران او دنګ دنګ ګړنګونه راځي انورشاه دغه ټول حالاتپه خپل کلام کښې بیان کړي دي لکه چې د عشق په حقله وائي:

چې د عشق په تېغ د چا زړګے پارۀ شي
د مرهم علاج ئې نۀ شي له طبیبه[25]

د عشق نه چې کوم اور او لمبې خېژي دغه نقشه داسې راکاږي:

زړۀ مې بیا نوے فریاد کاندي نولېږي
اور د عشق دے لګېدلے چې ورتېږي
قراري صبر آرام سکون ئې نۀ شي
کاري زخم ئې خوړلے دے ولېږي
حکیمان ئې درمانده دي له علاجه
دې علاج ته تاب د چا دے چې رسېږي

څۀ مزه مې زړګي بیاموندہ په عشق کښې
خوشحالي ذوق و هوس کوي خوښېږي
نۀ ئې خواب نۀ ئې راحت په بستره وي
ګوښې ګوښې جدا هډ رګ ئې لرزېږي[26]

دا هم یو حقیقت دے چې په ټول کائنات د عشق حکمراني ده۔ عشق، عاشق او معشوق د یو جسم مظاهر دي۔ څۀ وخت چې دغه عشق انتها ته ورسي نو بیا عاشق ته په هر څیز کښې خپل محبوب ننداره کېږي۔ دا که د کائنات رنګیني وي، د قدرت حسین مناظر وي، د ستورو او سپوږمۍ پلوشې او ننداري وي که د ابشارونو، سیندونو، لختو، ولو او چینو موسیقي او ترنم وي۔لکه چې انورشاه دغه مقام په ګوته کوي:

د فقیر د زړۀ جلوه وینم ظهور ډېر
معرفت ئې تجلي کاندي د نُور ډېر
فقر فخر قناعت ګنجِ مخفي دے
حدیث دا باب حضرت کړے دے مذکور ډېر[27]

غرض دا چې انورشاه صوفي شاعر وو د کشف و کرامات خاوند وو۔ د تصوف ټول منازل ئې ښۀ په کامیابۍ سره حاصل کړي دي۔

د سید میر انورشاه تعلیمات:-

د دُنیا په مخ چې څومره بزرګان، عالمان، صوفیان، فلسفیان، اولیاء کرام، سائنسدانان او شاعران تېر شوي دي، هغو ټولو د خپل اولس او قوم د پاره خپل ځانونه په تکلیف کښې اچولي دي۔ ځانونه ئې د غربت او افلاس په تورو تیارو کښې ساتلي دي خو په خپلو افکارو، ایجاداتو، تعلیماتو، فلسفو، مجاهدو او شعرونو کښې دومره مشغول پاتي شوي دي چې تر ننه ئې دغه پېرزوئینې، مرستې، ښېګړې او ورکړې تل پاتې دي او دوي هم په دغه کارونو تر ننه ژوندي دي۔

د انورشاه د تعلیماتو اهمیت او ضرورت چې څومره د هغۀ په وخت کښې وو دومره نن هم دے او د دې نه پس به هم وي، ځکه چې د هغه تعلیمات د مذهب او شرعې عېن مطابق او تل پاتي دي۔دغه روحاني هستي د خپلو ریاضتونو او د خپل خالق په فضل هغه مقام ته رسېدلے دے چې خپل ادارک ئې د خپل احساس او خپل احساس ئې د خپل سپېڅلي روح

په ولقه کښې ورکړے دے او دغه "وجدان" د شاعر د سينې نه د علم او عرفان داسې ملغلرې راويستي دي چې د هر چا احساس راپاروي او روحله ټکور ورکوي۔
دهغه په کلام کښې چې کوم تعليمات شامل دي په هغو کښې د دنيا بې وفائي او بې ثباتي، د بغض حسد او کينې غندنه ، دفقروقناعت، صبر، توکل، سخاوت اود نصيحت نه ډک پيغامونه ډېر په ښکلي رنګ کښې بيان شوې دي۔ لکه چې د دُنيا بې وفائي ، بې ثباتي او د دُنيا سره مينه په داډول بيانوي۔

طالبان د دنيا سپي جيفه ئې دوست
له دوستي ددُنيا ځکه په سقرلاړ
هفت اقليم عالم ئې لاندې وو په حکم
خالي لاس ددې دُنيا نه سکندرلاړ [28]

انورشاه په خپل کلام کښې د دُنيا دواړه اړخه يعني ښۀ او بد په ښۀ شان سره ښکاري کړي دي۔ د دُنيا وفائې هم ښودلې ده او جفائې هم ۔ د دُنيا فنا ئې هم ښودلې ده او بقائې هم ښرګند کړې ده۔ د دُنيا سره د مينې فائدې او نقصانات ئې هم په ډاګه کړې دي۔ انسان ته دا حقيقت په ښۀ توګه معلوم دے چې د هغۀ په دُنيا کښې د څو ورځو مېلمه دے ولې د دې باوجود هغه د دُنيا په عارضي رنګينۍ کښې دومره مشغول شوے وې
چې اخروي ژوندترې هېروي۔ په دې عارضي او فاني ژوند پسې زړه تړل عقلمندي نۀ ده ځکه چې:

په فاني دُنيا تۀ هېڅ مه هوسېږه
چې مرګ شته دے ښادې چرې وَپو هېږه
بې له دې سرايه بل سرائې نشته د وړاندې
له دې سرايه توښه واخله روانېږه [29]

بيا هاغه خلقو ته نصيحت کوي کوم چې ددُنيا هوس راخستې وي۔ ددُنيا عارضي مال حال يا دولت او جائيداد پرې سترګې پټې کړې وي، حالانکې هغوې ته داپته وي چې د هغه پلار نيکۀ پېغمبران، اولياء اوبادشاهان خالي لاسونه تلې دي څنګه چې خالي لاسونه راغلې وو۔ انورشاه وائي:

ددُنيا په طلب څوګرځې اے مړيه خلاص به نۀ شې دمرګي د جال له کړيه [30]

خوچې څوک د دُنیا د حقیقت او فاني ژوند نه خبروي بیاهغوي په دې پورې زړه نۀ تړي بلکې د خپل اخروي ژوند حاصلولو دپاره ئې د توښې ګټلو ځاے ګڼي ځکه چې هغه ته دا حقیقت په ډاګه وي او دا احساس لري چې :

هائي توبه توبه فاني دنیا لوټلي
مرګے شته دے ناوکي غشي دې ولي
چې په رنګ تر زیړو ګلو ښائسته وو
اوس د تورو خاورو زنګ شو هغه ښکلي[31]

د دُنیا نه تېښته نۀ ده پکار بلکې داسې کارونه پکار دي چې ژوند، دین اودُنیا پرې ښائسته شي۔ د انسان ژوند د روح اومادي مجموعه ده چې د مادي ضروریاتو سره سره روحاني ضروریات هم لري که چرته په مادي ضروریاتو پسې منډې شروع کړي او روحاني پربږدي نو بیا د داسې انسان نه ځناور جوړېږي۔ روحانیت انسان د اشرف المخلوقات په صف کښې ودروي۔ د دُنیا د ټولو بزرګانو، صوفیانو، ادیبانو، فلسفیانو او شاعرانو مقصد اومنشا د معاشرې اصلاح کول وي۔ د امن اوسکون فضا جوړول وي۔ د اودۀ اولس اودۀ جذبات د انسانیت په اعلی درجه فائز کول وي لکه چې انور شاه خپل اولس ته غږ کوي:

په څۀ کبر په حرام په دماغ ګرځې
په قیامت به درمانده وې له ځوابه
د غفلت په خواب اودۀ بې غمه پروت یې
ویخ شه ویخ شه د غفلت له راڼۀ خوابه
که غواص یې لباس لرې له بدن کړه
دُر په موټو موټو راوړه له دریابه[32]

بل ځاى داسې وائي:

په څۀ خیال په ګلو ناست یې عندلیبه
په بهار پسې خزان دے عنقریبه
چې ګلونه بویه وې عیش و نشاط کړې
په وصال باندې هجران شته دے غریبه[33]

انور شاه یوحساس زړۀ او دماغ لرلو هغه چې به څۀ محسوسول د هغه د اصلاح کوشش به ئې کولو. هغه که د دُنیا په بې ثباتۍ تنقید کړے دے نو خپل ځان ئې هم د تنقید په دائره کښې راوستے دے لکه چې وائي:

نصیحت چې نور عالم ته په زبان کړې
اول ځان ته نصیحت وکړه خطیبه [34]

کوم انسان چې په خپل ځان تنقید کولے شي خپلې غلطۍ محسوسولے شي بیا هغه په نورو هم د تنقید حق لري. زمونږ په معاشره کښې کینه، بغض او حسد یوداسې ناسور دے چې خپلې جرړې ئې په هر ځائې کښې مضبوطې کړې دي. دغه ناسور د انسان اخلاق خرابوي، د معاشرې سکون بربادوي، په معاشره کښې الغاو تلغاوپېدا کوي او د معاشرې امن لُوټي. کوم زړونه چې د بغض، حسد او کینې نه پاک نۀ وي په هغوي کښې چرته هم د نېکۍ او خېر ښېګړې جذبات نۀ شي پیدا کېدے. انور شاه هم ددې جراثیموغندنه کړې ده ځکه چې هغه د عشق، روحانیت او اخلاقو معلم او مبلغ وو په دې لړ کښې انور شاه خپل خیالات څرګندوي.

کبر بخل عداوت له مومن مه کړه
بغض کینه به دې مدام لري رنځور ډېر [35]

او بیا دغه کبرژنو ته مخاطب کېږي چې:

کبرژنو په نفیس لباس دے فخر
پرهېزګار لري لباس مخ و استر تور
د عمل چراغ له ځانه سره یوسه
د لحد زمکه بالین لري بستر تور [36]

د حضرت ادم علیه السلام نه واخله تر حضرت محمد صل الله علیه وسلم پورې چې څومره پېغمبران راغلي دي او هغوي نه پس چې څومره صحابه کرام رضي الله عنهم، عالمان ،امامان، بزرګان او اولیاء ددُنیا په مخ تېر شوي دي د ټولو د تعلیماتو خلاصه د انسانیت دپاره د امن او سوکالۍ زېرے دے. انور شاه هم د ش دغه صوفیانو په ټولګي کښې راځي هغۀ هم خپل اولس ته د امن او سوکالۍ تبلیغ کړے دے د فقرو قناعت حقیقت ئې په ډاګه کړے دے. دا یو کوټلے حقیقت دے چې چا هم فقیري،ملنګي، دروېشي ، عاجزي او

سرکوزي اختیار کړي ده هغه کامیاب شوے دے۔ انورشاه د شعر په ژبه اولس ته مخاطب کېږي چې:

فقر فخر قناعت ګنج محفي دے
حدیث دا باب حضرت کړے دے مذکُور ډېر
عاشقان د خدا ے په یاد ذکر زنده وي
مینه نهٔ کا په دنیا په زوي او لُور ډېر
عارفان ئې د یقین په سترګو ګوري
محتاج کله د جنتودي د حُور ډېر[37]

د انور شاه په شخصیت کښې عاجزي وه۔ هغه د انسانیت خواخوږے وو۔ هغه غوښتله چې د معاشرې وګړي دې په دیني تعلیم اراسته وي چې دا دنیا ئې هم ښائسته وي او ابدي ژوند ئې هم ښائسته شي او که چرته پرې عبث وخت تېر شي نو بیا به ارمان کوي ولې تېر وخت په بېرته بیا نهٔ راځي۔ څنګه ښائسته وېنا کوي۔

بیا به ډېرارمان کوې په صورت لټه
بختور دي چې د دین ئې وکړه ګټه
مخلصان به په صراط المستقیم ځي
سرترپایه جاهلان غرق شوُ په خټه[38]

انورشاه د علم حقیقت په ډاګه کوي چې:

علم ښهٔ عمل سره وي
لدون علم دےمشرب
په ظاهره لیده نهٔ شي
نهٔ چا ذدهٔ کړه له مکتب
سِرا سرار دےیقین وکړه
عَلم حق دےمنتخب[39]

سخاوت د انسان داسي وصف یا خوي ته وائي چې د بې وسه، محتاجه ، غریب او حاجت مند مدد وکړے شي۔ سخیان د نېکو او سپېڅلو عملونو خاوندان وي، د لوئې زړهٔ مالکان وي۔ سخیان د الله دوستان وي۔

داسې خلق تل د معاشرې او انسانیت د خېر ښېګړې او مرستې علمبردار وي۔ انور شاه هم اولس ته د سخاوت ستائنه، د بغض کینې،بُخل او دنیاوي ژوند غندنه کړې ده لکه چې وائي:

بدشومت به هرګز خلاص نهٔ شي له بغضه
په مثال د وچې ونې بې ثمر لاړ
په معنٰي کښې سخاوت بارداره ونه
خاص وعام نفع ترې اخلي بهره ور لاړ
د وفاطمع هرګزله د دُنیا مه کړه
ښهٔ هغه چې مجرد وقلندر لاړ[40]

په دُنیاوي ژوند کښې دا هم یو کوټلے حقیقت دے چې څوک په کوم مجلس کښې ناسته پاسته کوي د هغه مجلس اثر پرې کېږي که څوک د پاکانو، عالمانو، صوفیانو او بزرګانو سره په مجلس کښې شریکېږي نود هغوي خوي او بوي په کښې پېدا کېږي اوکه څوک د بدکارو، جوارګرو، ډمبازو، جاهلانو او نشیانو په مجلس کښې کښېني نو د هغوي اثر به قبلوي۔ انورشاه د مجلس اثر بیانوي چې:

کل مجلس تاثیر اثر لري باورکړه
نېک په نېکو بد په بدو پسې سرشه[41]

انور شاه یو بزرګ صوفي او د کراماتو خاوند شاعروو ۔ هغه د خپل چاپېرچل یوازې نندارچي نهٔوو، بلکې ترجمان هم وو هغه چې په کوم مجلس کښې ژوند تېر کړے وو هغه د فقیرۍ، دروېشۍ، ملنګۍ، اوفقروقناعت په اوصافو ښهٔ سمبال و لکه چې وائي:

په ساده سپینو جامو لباس هوس کړم
نهٔ محتاج د شال کمخاب زربفت حریریم
له نا اهلو مې خلوت وصحبت نهٔ شي
جدا ناست ځکه له خلقو ګوشه ګیر یم[42]

انورشاه که یو پلو ځان ته ګوشه ګیر وائي نو بل اړخ ته د خپل وخت په حالاتو هم ژور نظر لري ۔ هغه تاریک الدنیا پیر نهٔ وو بلکې د خپل چاپېرچل، د حکومتِ وخت، سردارانو،ملکانو،خانانو، شته مندو او حاکمانو حالات ئې هم د قلم څوکې ته سپارلې دي

لکه چې وائي:

د جهان مزه شوه ورکه زوے بېزار له خپله پلار دے
منقطع صِله رحمي شوه په نور چا څۀ اعتبار دے
سردارانو حال به وایم اوس د دیو راغلے وار دے
په هر څۀ ئې چې لاس بر شي صرفه نۀ کا الجه مار دے
غرضي د خپل مطلب شه منافق فاسق فجار دے[43]

د انورشاه ټول کلام د مجازي مينې او دُنیاوي جاه و جلال په ځاے د عشقِ حقيقي او روحاني جذباتو نه ډک دے او دا ځکه چې هغۀ يو مکمل روحاني او الهامي هستي لرله. هغه د شریعت په لار دطریقت"جمال اباد" ته ورګډېږي او د روحانیاتو په دغه جمالستان کښې د طريقت ګران او زړۀ چاودې سفر د خپل سپېڅلي روح په زور تر "فنا في المحبوب" تر ارفع مقام رسوي. د شریعت لاره ئې ټينګه کړې ده. د خپلو اعلٰي تعليماتو د پاره ئې شعري وسيله پکار کړې ده لکه چې د اسلام بنيادي اجزا بيانوي:

شریعت کار مستحکم پنج بنا دا دي
نمونځ روژه زکواة و حج دے و جهاد
دا خفي ذکر افضل رڼا د زړۀ دے
معرفت مونده د خدائې دے په کښې یاد
طالبان د دُنيا سپي واړه هجړه دي
سرنګون دي په دوه کونه نامراد
د قارون کوټې له ګنجه سره لاړې
لا تر اوسه دا افسوس کاندي شبداد[44]

زمونږ په معاشره کښې اکثر مور، خور او لُور ته په جائيداد کښې حق نۀ ورکړے کېږي. انورشاه لکه د پوهه نباض او لس ته مخاطب کېږي.

همسايه د خور لُور حق شته امتياز وکړه په دا
خپله غاړه دې کړه خلاصه
مستحق حق بې بها

په قيامت به سرخرو وي
په صورت سيرت زيبا
مرد هغهٔ دے په دُنيا کښې
چې خصلت کا د سخا[45]

د مشرقي ژبو اکثرو شاعرانو که د هرې ژبې دي د درويش اصطلاح له رواج ورکړے دے۔ دا هغه خلق وي کوم چې په معاشره کښې دُر گوهر ويشي۔ دوي د خپل فکروعمل په وجه داسې انسانان وي چې د هر قسمه خامو او کمزورو نه پاک وي۔ د هغوي زړونه د دُنيا نه ماړهٔ وي۔ د مال حال، دولت او جائيداد هيڅ پروا نهٔ کوي۔ د هغوي په الله پاک کامله عقيده وي هغوي په هر ځهٔ قناعت کوونکي وي، صبر کوي او عاجزي خوښوي۔ انورشاه هم يو درويش صفته انسان وو۔ د درويشانو صفات، کرامات او معجزات ئې په تفصيل سره بيان کړي دي۔ داسې ښکاري چې د رحمان بابا کلام ئې مخې ته پروت دے او د خپلې خوښې ملغلرې ترې راټولوي ولې د بده مرغه د رحمان بابا نامه ئې نهٔ ده اخستې حالانکې د رحمان بابا د کلام په زمکه ئې هم د هغه په قافيه، رديف او وزن کښې کلام ليکلے دے لکه چې رحمان بابا د درويشانو کردار بيانوي:

که نظر کا څوک په کار د درويشانو
خود به ووينې وقار د درويشانو
هر بهار لري خزان په جهان شته دے
خزان نهٔ لري بهار د درويشانو
درست ديوان د رحمان ځار تر دا غزل شه
چې بيان ئې کړو کردار د درويشانو[46]

او انورشاه په دغه زرخېزه زمکه د درويشانو کردار داسې بيانوي:

که عمل کړې په گفتار د درويشانو
سود به واخلې له دربار د درويشانو
د خزان د باد گذر ئې په باغ نهٔ شي
طراوت لرې بهار د درويشانو

که د زړۀ په ائينه څوک نظر وکا
خزان نۀ لري بهار د دروېشانو

مير انور ئې له احواله خبردار دے
چې اظهار ئې کړه کردار د دروېشاتو[47]

غرض دا چې د انورشاه ټول کلام د اسلامي تعليماتو نه ډک دے۔ انورشاه چې په کوم وخت کښې ژوند کولو په دغه وخت کښې د ملک حالات د انتشار ښکار وو۔ هر طرفته ځان ځاني وه، اړے ګړے وو۔ په داسې وخت کښې بيا يو شاعر او هغۀ هم د تصوف په درجه فائز د کمالاتو او معجزاتو خاوند د اولس خدمت هم په دغه طريقه کوي کومه طريقه او لار چې انورشاه اختيار کړې وه او هم په دغه وخت کښې معاشرې ته هم د دغه تعليماتو ضرورت وو ځکه چې:

د دهلي، کشمير، کابل مزه شوه ورکه
لوي ګجرات، دهکن، مالوه خراب لاهور دے[48]

# References

[1] Hamish Khalil, Dewan e Qanber Alii Khan, Public Art Press, Pekhawar, Publish 1st Jan,1960, p.K
[2] Ibid,p.37
[3] Ibid,p.38
[4] Dr.Anwar ul Haq Jalani, Dur ao Marjan da Abdul Hami Dewan, University Book Agency Khyber Bazar, Pekhwar, p.141
[5] Hamish Khalil, p.112
[6] Syed Hussain Anwari, Sahefa Anwari, Mutarajum,Dr.Muqaeel Hussain Hussaine, Edan Printers, Lahore, Publish 3rd , Sep,2018,p.289
[7] Da Abdul Qadir Khan Khatak Dewan, Muratab: Prof.Jahanzaib Niaz, Pekhawar, Pakhtoo Academy, 2002,p.212
[8] Zarin Anzoor, da Sadar Khushal Zwand ao Asar, Pakhto Academy, Pekhwar Pohantoon, 1997,pp.118-190
[9] Syed Hussain Anwari, pp.334-336
[10] Ibid,p52
[11] Ibid,p.86
[12] Ibid,p.80
[13] Ibid,p.100
[14] Ibid,p.104
[15] Ibid,pp. 172,174
[16] Ibid,p. 204
[17] Ibid,p. 292
[18] Ibid,p.490
[19] Ibid,p.188
[20] Ibid,p.280
[21] Ibid,p.92
[22] Ibid,p.312
[23] Ibid,p.294
[24] Ibid,p.358
[25] Ibid,p.268
[26] Ibid,p.116-118
[27] Ibid,p.236
[28] Ibid,pp. 238-39
[29] Ibid,p.248
[30] Ibid,p.252
[31] Ibid,p.264

[32] Ibid,p.120
[33] Ibid,p.268
[34] Ibid,p.270
[35] Ibid,p.236
[36] Ibid,p.274
[37] Ibid,pp.236-38
[38] Ibid,p.330
[39] Ibid,p.90
[40] Ibid,p.240
[41] Ibid,p.284
[42] Ibid,p.358
[43] Ibid,pp.254-56
[44] Ibid,pp.232-34
[45] Ibid,p,74
[46] Syed Rasool Rasa, da Abdu Rehman Baba Dewan, University Book Agency, Khyber Bazar, Pekhawar,pp.83-84
[47] Ibid,pp.350-52
[48] Ibid,p.262